**ډیرو درنو او قدرمنو عزیزانو!**

د نوي هجري ـ لمريز کال د را رسيدو له امله خپلې مبارکۍ او نيکي هيلې، تاسو عزيزانو او ستاسو په وسيله د افغانستان ټولو خلکو ته، په ځانګړې توګه ستاسو د درنې پاڼې لوستونکو او قلمي همکارانو ته تقديموم. هيله من يم چې راتلونکی پسرلی او نوی کال به زمونږه رنځيدلو خلکو ته د سولې او آرامی کال وي. زه ستاسو زيار او زحمت ته چې د روښانفکرانو د لا تنوير، اتفاق، اتحاد او ملي يووالي لپاره مو ګاللی دی د قدر او درنښت په سترګه ګورم، ستايم ئې او ورته درناوی کوم.

سره له دې چې عقيدې، سليقې او د عمل لارې اوکړنې به بيلې وي، مګر په يوه واحد او مشترک هدف کې ټول سره راټول يو او هغه زمونږه افغانيت دی. افغانيت او د افغانانو د ملي يووالي لپاره چې هر څوک په ريښتينې توګه، صادقانه او مخلصانه کار او فعاليت کوي زمونږ عزيز او د سترګو تورډی. آزاد دی وي افغانستان او ټينګه دې وي د افغاني ورونو قومونو ترمنځ يووالی او دوستي.

په درنښت.

**ديپلوم انجينر عبدالکبير کاکړ**

د ماربورګ بيدنکوف د افغانانو د کلتوري اتحاديی رئيس.

د ۲۰۱۰ ميلادي کال د مارچ د مياشتي شپاړسمه نيټه .

www.esalat.org